MALALA FUND

پرانیستی لیک

**پنجشنبه ۱۴ جولای ۲۰۲۲**

د نړیوالو رهبرانو او مشرانو د پام وړ!

درې سوه (۳۰۰) ورځې کېږي چې په افغانستان کې د نجونو پر مخ ښوونځي تړلي دی. د نجونو پر زدکړو د طالبانو بندیز چې څومره غځېږي، هومره نجوني ښوونځیو ته له تګ ناهیلې او له پوهنې لاس په سر کېږي. مونږ د نجونو د پوهنې د مبارزینو او فعالینو په حیث له تاسې غواړو چې د افغان نجونو غږ بدرګه کړئ. لوستې او ځواکمنې پېغلې هوسا او پیاوړې نړۍ رامنځته کوي ـ نو د یوه داسې راتلونکي لپاره تاسې باید جدي او کوټلي ګامونه واخلئ.

هغه څه چې مونږ  یې له تاسې غواړو هغه د اعلامیې د خپرولو او یا په نړیوالو ناستو کې د یوې شېبې له چوپتیا غوره کولو څخه ور اخوا دي. که څه هم د خواخوږۍ شېبې او اعلامیې په ښه نیت خپرېږي، خو بیا هم  طالبان د نجونو له حقونو د سرغړاوي په تړاو نه محکومېږي. نړیوال باید ډیپلوماتیک فشار ته ادامه ورکړي تر څو طالبان سمدلاسه د نجونو پرمخ منځني ښوونځي او لېسې پرانېزي.

په تېرو دوه لسیزو کې میلیونونو افغان نجونو او مېرمنو زدکړې وکړې. د افغان بنسټونو او سازمانونو سره په ګډه نړیوالو د دوامداره پرمختیایي موخو ترلاسه کولو په پار سیمه ایز او نړیوالې ژمنې او تعهدات کړي دي. اوس د هغه ژمنو سر ته رسولو وخت رارسېدلی دی. د داسې مشرانو په توګه چې انساني حقونو، برابرۍ او عدل ته ژمن وي، دا یې اخلاقي دنده ده چې د سلګونه زره کورنیو او نجونو ترڅنګ ودرېږئ چې ښوونځي پرانیستي غواړي، او د کلتوري، ټولنیز او سیاسي حقونو غوښتنه کوي.

مونږ له سیمه ایزه ملګرو، نړیوال رهبرانو او ادارو غواړو چې په همغږۍ او زغرده خپل غږ پورته کړي. تاسې سږکال په سپټامبر کې د ملګرو ملتونو عمومي اسمابلۍ کې د افغان مېرمنو او نجونو د حقونو په هکله باید لاندې درې کارونه وکړئ:

**لومړی:** له شپږم ټولګي پورته د نجونو پر زدکړو او د مېرمنو پر کار لګېدلي بندیزونه لېرې کولو لپاره، د ښځو کار، دندې او د نجونو ښوونځیو ته د خوندي تګ راتګ په موخه پر افغانستان حاکم چارواکو ډیپلوماتیک فشار زیات کړئ.

**دویم:** د افغانستان د پوهنې سکتور په پېښو درولو او د زدکړو متبادله لارو چارو لټولو په موخه پر افغاني بنسټونو، ادارو او ټولنیز سازمانونو پانګونه وکړئ.

**دریم:** د افغانستان د پوهنې د ډګر مبارزینو، فعالینو او عدالت غوښتونکو سره اوږه په اوږه ودرېږئ او د افغانستان د راتلونکي په تړاو دوي ته د خبرو اترو زمینه برابره کړئ.

کومه ټولنه کې چې د ښځو او نجونو حقونه تضمین نه وي، او یا دا چې دوي د خپل لیدلوري له څرګندولو بې برخه وي، هیڅ پرمخ نشي تللای. له افغانستان پرته نړۍ دوامداره پرمختیایي موخې نشي ترلاسه کولای. که چېرې نړیوال غواړي چې تر ۲۰۳۰ دې دوامداره پرمختیایي موخو ته ورسیږي، نو باید د افغانانو سره د شویو ژمنو پخلی او ډاډ ورکړي.

- رحیم جامی - د پوهنې مبارز او د ښځو د حقونو مدافع
- دیما حـــرم - د پوهنې مبارزه او د ښځو د حقونو مدافع

**همغـږه او ملاتړي:**

1. عاصم شریف، د لبنان د زدکړو او روزنې مؤسسه، لبنان
2. ډاکټر منظور احمد، د پوهنې د کمپاین اداره، بنګلادیش
3. عنایت ناصر، د افغانستان له معارف سره د مرستې مؤسسه، افغانستان
4. مرشد عالم سرکار، پیپلز اورینټډ پروګرام، بنګلادیش
5. هبا حمزی، د بې پولې پرمختګ ټولنه، لبنان
6. جان محمد احمدیان، د پوهنې مبارز او مدنی فعال، افغانستان
7. سید عبدالله احمدی، د افغانستان د پرمختګ او دیموکراسی مؤسسه
8. زرقا یفتلی، د ښځو او ماشومان د حقونو د څیړنې بنسټ، افغانستان